


## پخير راغلی لانګ ایتون ته!

مونږ پوهیږو چی د هوټل څخه ستاسی تلل هم ستونزمن دی نو هیله لرو چی لاندی معلومات به ستاسی سره مرسته وکړی.

### مونږ څوک یو؟

ټول پخير راغي ايرواش (AWE) ته د رضا کارانو يو ګروپ دی چی په لانګ ایتون کی اوسی او هدف يي پدی ښار کی پناه غوښتونکو سره مرسته کول دی. د هری سه شنبه په ورځ دلته دوستانه غیر رسمی انګلیسی ژبی درسونه وړاندی کوو چی تاسی کولای شی چای او کیک هم نوشیجان کړی، کچیری ستاسی انګلیسی ژبه هم زده نه وی  مونږ خوشحالیږو او تاسی هر یوه ته ښه راغلاست وایو.
وخت: سه شنبه ۲-۴ بجو پوری د سېټ جانز کلیسا تالار، کالج کوڅه، لانګ ایټون، NG104EP

### هوټل:

کچیری تاسی په هوټل کی یاست او د کومی ستونزی سره مخامخ شولۍ  مهربانی وکړۍ ستاسی په هوټل کی د استوګنځیو مسوول څخه مرسته ترلاسه کړۍ.

### په هوټل کوم فعالیتونه شتون لری:

د هوساینی درسونه او انګلیسی محاوری ټولګي د ځایی/محلی مرستندویانو لخوا وړاندی کیږی.
سپورټی او ورزشی لوازم لکه ټیبل ټینس او باسکټبال لپاره هلته شتون لری.

### ډیر ژر به لاندی پروګرامونه شروع شی:

1- د انګلیسی ټولګی به د ناټینګهم کالج لخوا شروع شی.
2- اسناد درلودونکی اشخاص چی په ټولو کی شتون لری هغوی ته پیسو، کور او دندو په هکله معلوماتـ وړاندی کوو.

### لباسونه

که تاسو جامو یا بوټانو ته اړتیا لرئ، مهرباني وکړئ خپل د اوسیدنځای مسوول افسر سره اړیکه ونیسئ. دوی له موږ سره همغږی کوي.

### انګلیسی زده کړی

برسیره پر دی چی په هوټلو کی د انګلیسی ژبی درسونه موجود دی د انګلیسی ژبی محاوری درسونه په ناټینګم او ډربی کی پدی ادرس پیدا کولای شی. www.trinitylongeaton.org.uk/english-classes
په ناټینګهم، ډربی او ایلکسټون کی رسمی انګلیسی ژبی کورسونه هم شتون لری، خو تاسی ضرورتـ لری چی لومړی باید خپل ځانونه راجسټر کړی.

### ناټینګهم او ډربی ښارونه

دا دواړه ښارونه نږدی ښارونه دی چی ناټینګهم په ۷ مایلونو کی او ډربی په ۱۰ مایلونو کی موقعیت لری په منظم ډول دواړو ښارونو ته بسونه تګ راتګ کوی. تاسی کولای شی چی د اینډیګو۵ په نوم بس کی دواړو ښارونو ته لاړ شۍ. ددی بس تم ځایونه په ډربی سړک (ډربی روډ) باندی او هوټلو ته نږدی پیدا کولای شی، پدی هکله تاسی د استوګنځی د افسر څخه معلومات ترلاسه کړی.
په اوس وخت له یوی خوا څخه ۲ فونډ کرایه ده تر څو تاسو ناټینګهم او ډربی ته لاړشۍ.

### په ناټینګهم او ډربی کی فعالیتونه

لاندی موسسات په ناټینګهم او ډربی کی د پناه غوښتونکو لپاره خدمات وړاندی کوی.


**ډربی:**

Upbeat Communities - www.upbeatcommunities.org
Derbyshire Refugee Advice Centre - www.derbyrefugeeforum.org
Derbyshire Refugee Solidarity - https://derbyshirerefugeesolidarity.org

**ناټینګهم:**

Refugee Roots - www.refugeeroots.org.uk
Nottingham & Nottinghamshire Refugee Forum - www.nottsrefugeeforum.org.uk

**په لاندې نقشه کې تاسې مختلف ځایونه کتلې شې**




**د عبادت ځایونه**
ستاسې لپاره مختلف ځایونه شتون لري.

## عبادت ځایونه

د عسویانو لپاره: کریسټ کلیسا، ډربی سړک NG104NE، سټ جانز کلیسا، کالج کوڅه NG104GA، ټرینټي میتوديست کلیسا (کراس کوڅه، NG10 4HD)
د مسلمانانو لپاره: لانګ ایتون جومات (بینیټ کوڅه NG10 4QP )

**.د پناه غوښتونکو لپاره نور رضاکاره مصروفیتونه ( یوازې مراجعه وکړی او د مسوول کس څخه یې معلومات وکړی**

- د باسیکل ترمیم: پیټرشم هال ( NG10 4DZ)، هره دوشنبه ۱۰ بجو څخه تر ۱۲ پورې
- د چهارشنبې په ورځ پخیر راغلی: پدې ځای کې ګرم خوراک تاسې ته درکوی ، د سټ جانز کلیسا صالون ۹ بجو څخه تر ۱ بجې پورې.
- یو ځای د پنجشنبې په ورځ: پدې ځای کې هم ګرم خوراک تاسې ته درکوی، ټرینټي میتوديست کلیسا له ۹ بجو څخه ۱ بجې پورې.
- مانا غذایي کڅوړه : پدې ځای کې تاسې ته خواړه درکوی چې تاسې کولای شی له ځان سره یې یوسې، سټ جانز کلیسا صالون له ۱۲ څخه تر ۴ بجو پورې.
- باغداری کارونه: ایلفنټ روم لخوا دا چاری ترسره کیږی، ډرایکوټ (DE72 3pp)، پنجشنبه له ۲ څخه تر ۴ بجو پورې، تاسې د ډاربی په بس کې دلته تللې شې او ایلفنټ روم تاسې ته د بس کرایه هم درکوی.
- د جمعې لمونځ: په لانګ ایتون جومات کې ( NG10 4QP )
- په پارک کې منډې وهل: شنبې په ورځ سهار تاسې کولای شې چارلی سره پدې واتسف اړیکه نیولی شې ۰۷۷۲۹۸۰۳۲۰۲

**مهربانی وکړی کچیرې تاسې په لاندې فعالیتونو کې علاقمندی درلوده مونږ ته د فسبوک په لاندې ادرس پیغام را استولی شې.**
**زمونږ د فسبوک پته : [www.facebook.com/AllWelcomeErewash](http://www.facebook.com/AllWelcomeErewash):**

| | | |
|---|---|---|
| تیاتر | قدم وهل | فوټبال |
| نور ورزشی فعالیتونه | تنظیف د کوڅو پاکوالی | کریکټ |
| رضا کار ی | خیاطي | باغواني |
| | ابتکاری درملنه | سندری کول |